(c) ketabton.com: The Digital Library



خدایه شته په خپلو کښې څه پس پس کوي
څانونه غلي کړي چې ما اوویني
څه رازداري خو شته د مور او د لور

زه چې د سیند چپو ته کورمه نو
راشي په سترګو مې لاسونه کښېږدي
وائي څه اووایه چې څوک یمه زه

ښه روغ رمټ یم چې بس یمه زه
کور ته چې راشم نو بې حاله شمه
چا جوړ په ما باندې تاوید کړے دے



دا حقیقت د چا نه پټ خو نه دے
د رنګ سپېدو پسې ړندېږو څکه
مونږ په صحرا کښې اوبه خوړ کړے دے

مونږ به سپوږمۍ ته دوه پښو ختلي
افسوس خو دا دے چې زمونږه د کور
درشل کړه او درېږي، دېوال پرېوځي

بنګړي په لېچو کښې په خیال شړنګوه
چې په سینه کښې مې غورځنګ راشي نو
په دریابونو کښې کشتۍ لاهو شي

Scanned by CamScanner

اوس په هر لوري
اور مو په سر وروي
د اونو سپورې

اووايې پوے شوې
ته چې مئين شوې په ما
لاړلې توے شوې

ټيکاله غواړي
لمبه چې نکړم تنور
بچي مې ژاړي



کور مې زړهٔ تنګ شي
چې نيمه شپه جګړه کېږي
د بنګړو شړنګ شي

اوس هسې ژاړې
نهٔ راځي خولې ته بېرته
توکلې لاړې

دا څهٔ قيامت دے
ځواني دې شوخه ده او
تصوير دې نت دے

خدایه شته هیڅا تاته ملامته نه یم
لوږو او تندو که وژلم نو هم
چرته مې لاس چاته نیولی نه دی

اوس به د ځان څه صفائي کومه
ځکه بالاخره سرې شومه زه
شیرینې تا سره مې ښه کړې وو

خدایږو په خوند پسې د ژوند پاندې شو
اې د ځوانۍ د تقاضو سپرلیه
زمونږه کلي ته به راشې که نه



شیرینې دومره ناآوازګاره شې خو
ته چې له ځان سره یوازې شې نو
دا ځوانۍ مړک در ته یادېږي که نه

د زوراور اوبه په لوړه خېژي
آ چې بد خویه یادېږه کلي کښې
د خپو تلي مې هم هغه ښکلوي

رب دې ژوندی لره خو دوب دې کړمه
زهٔ به چکړ کښې خاغخا راتلمه
راته چې ملامته په اوبو کښې وې ته

